

د افغانستان اسلامي جمهوريت
د سولې عالي شورا



بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او حزب اسلامي افغانستان د مرکچي پلاوو ترمنځ

د سولې توافقليک د لاسليکولو په اړه ګډه اعلاميه

ميزان ۱۳۹۵- کابل

د ((والصلح الخير)) د مبارک آيت څخه په پيروی او د سولې عالي شورا په منځکړ ټوب، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او حزب اسلامي افغانستان، نيږدې دوه کاله وړاندې سولې ته د رسيدو په موخه د مذاکراتو پلاوي وګومارل.

ياد پلاوي، چې له دې وروسته له دوی څخه د (د دواړو لوريو) په نوم يادونه کيږي خپل مذاکرات د اسلام د مبارک دين د حکمونو په رڼا کې، د هيواد ملي ګټو ته د لومړيتوب په ورکولو او وفاداری، د افغانستان د خپلواکۍ، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا څخه په ګډه د دفاع کولو پر ارزښتونو باندې باور، تل پاتې سولې او ټولنيز عدالت ته د خبرو اترو او پوهاوي له لارې د لاس رسي پر امکان د اعتماد درلودلو په ترڅ کې پای ته ورسول.

د دواړو لوريو تر منځ خبرې اترې د ټينګې سياسي ارادې، پوره زغم، ريښتوالۍ، د لهجې صراحت او د دوه اړخيزه باور په فضا کې تر سره شوې.

دواړو لوريو د خبرو اترو په ترڅ کې د پرمختګونو له جريان څخه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د حزب اسلامي افغانستان مشرتابه په دوامداره توګه خبر ساتل او د دوی له مدبرانه او سوله پالونکو لارښوونو څخه برخه مند وو.

په دې ترتيب د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د حزب اسلامي افغانستان مرکچي پلاوي د ستر څښتن (ج) څخه د شکر په ادايې د توافقليک د منځ پانګې په اړه د نظرونو په اتفاق ، پوره خوښۍ او سرلوړۍ سره نن ورځ اعلاموي چې:

1. د سولې د توافقليک د تسويد په اړه د خبرو اترو بهير په بريالیتوب سره پای ته ورسيد.
2. د سولې د توافقليک مسوده چې د ګټورو او له ښه نيت څخه د برخه مندو خبرو اترو په پايله کې لاسته راغلې نن ورځ د سولې عالي شورا د مشرتابه په شتون کې د دواړو لوريو د مرکچي پلاوو لخوا لاسليک شوه.
3. د سولې د توافقليک متن به د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ولسمشر جلالتمآب محمد اشرف غني او د حزب اسلامي افغانستان قدرمن امير ګلبدين حکمتيار تر لاسليک کيدو وروسته رسماً نافذيږي.

4. سولې او ثبات ته د هیواد د جدي اړتیا په نظر کې نیولو او سولې ته د افغانستان د درست ملت هیله منډۍ ته په احترام سره دواړه لوري ځانونه ژمن بولي چې د توافقلیک د نافذ کیدو او اجرایۍوي کیدو بهیر به په تر ټولو نیږدې راتلونکي کې بشپړ کړي.
5. دواړه لوري د سیاسي ډلو، نړیوالې ټولنې په ځانګړي توګه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د دایمي غړو هیوادونو، په کابل کې د میشتو بهرنیو سیاسي نمایندګیو، د سولې عالي شورا مشرتابه په خاص ډول جناب عالیقدر پیر سید احمد ګیلاني د یادې شورا رئیس چې د دې توافقلیک د لاسلیک په برخه کې یې مؤثرې هلې ځلې کړي، همدارنګه هغه افراد او سیاسي ډلې چې سوله راوړنکي بین الافغاني نوښتونه یې کړي او د افغانستان د خلکو ترمنځ یې د سوله ایز ژوند په رامنځته کولو، د سولې د خبرو اترو په پرمختګ او د تعهداتو د عملي کولو په برخه کې هڅې او کوښښونه کړي منnه او قدرداني کوي.
6. دواړه لوري له هغو ډلو څخه چې لا تر اوسه د جګړې پر دوام ټینګار کوي غواړي چې د دې خبرو اترو له بریالیتوب څخه پر الهام اخیستلو خپلې سیاسي ستونزې د خبرو اترو له لارې حل کړي.
7. دواړه لوري هیله مند دي چې د ملګرو ملتونو سازمان، اروپایي اتحادیه، د اسلامي هیوادونو د کنفرانس سازمان، د سیمې هیوادونه او نور نړیوال بنسټونه د سولې د توافقلیک له لاسلیک کیدو سره سم له هغې څخه په کلکه ملاتړ وکړي. ترڅو په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګیدو بهیر نوي او هیله بښونکي پراو ته ور داخل شي.
8. د دواړو لورو مشران به په خپله لومړنۍ لبدنه کې، د توافقلیک د ټولو مادو د محتویاتو په خاصه توګه د ۴، ۸، ۱۳، او ۱۸ مې مادې په اړه مفصل بحث او خبرې اترې کوي

و من الله التوفیق